د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 445**

(7 – 13 سنبله 1403 هـ ش)

## په اقلیمي بدلونونو کې د افغانستان ځای او د هغې څخه د ژغورنې ستراتیژي




دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- په اقلیمي بدلونونو کې د افغانستان ځای او د هغې څخه د ژغورنې ستراتیژي ........................ 3
- د اقلیم په بدلون کې د افغانستان ځای................................................................ 4
- په افغانستان کې د اقلیم د بدلون پایلې ............................................................ 5
- د اقلیم بدلون سره د مبارزې لپاره د ژغورنې ستراتیژي.............................................. 8
- پایله ........................................................................................... 10
- وړاندیزونه ..................................................................................... 10
- سرچینې ........................................................................................ 11


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# په اقليمي بدلونونو کې د افغانستان ځای او د هغې څخه د ژغورنې ستراتيژي

## سريزه

په مستقیم یا غیر مستقیم ډول په ځمکه کې د هوا بدلون چې د بشري فعالیتونو په پایله کې پېښېږي د ملګرو ملتونو کنوانسیون لخوا د اقلیم بدلون (Climate change)په نوم یادیږي. دا ټول هغه بدلونونه دي چې د انسانی فعالیتونو په پایله کې د نړیوالې هوا په جوړښت کې رامینځته کېږي. د اقليم بدلون، د څو پیړیو راهیسې د صنعتي پروژو په پایله کې، د فوسيل سونګ موادو لکه د تیلو او ډبرو سکرو، د ځنګلونو پرې کولو او د مختلفو زراعتي میتودونو په کارولو سره، د کاربن ډای اکسایډ(CO2) ، میتان (CH4) او نایتروجن اکسایډ (N2O) په څېر د شنو خونو ګازونو په اتموسفیر کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی، چې د اقلیم د بدلون لامل شوی دی، لکه په نړیواله توګه د نړۍ د تودوخې زیاتوالی، د سمندر د سطحې زیاتوالی او د غیر متوقع اقلیمي پیښو زیاتوالی لکه وچکالي، سیلابونه او ناڅاپي طوفانونه، چې د بشري حقونو او د هغوی د بنسټیزو فزیکي او فزیولوژیکي اړتیاوو پوره کول یې له خطر سره مخامخ کړي، چې اکثریت خلک د بې وزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي او د ښځو، ماشومانو او د نورو وګړو ژوند یې په مختلفو ټولنېزو، اقتصادي او سیاسي اړخونو کې له ګواښ سره مخ کړی دی.

افغانستان نه یوازې دا چې د اقلیم له دې بدلونونو اغېزمن شوی دی بلکې د نړیوالو راپورونو له مخې د اقليمی بدلون څخه د زیان لیدونکو هېوادونو په ډله کې د نړۍ شپږم هیواد بلل شوی. د ماشومانو د ژغورنې اداري (Save the Children)په یوه راپور کې ویلي چې د روان کال په لومړيو شپږو میاشتو کې د اقلیمي بدلونونو (وچکالی، سختې ګرمی، سېلابونو، ځمکې ښوېېدو) او طوفانونو له امله په افغانستان کې لږ تر لږه ۳۸ زره کسان بی ځایه شوي چې ۵۰ سلنه یې ماشومان دي .

په همدې حال کې د افغانستان د اسلامي امارت د چاپېریال ساتنې ملي اداري چارواکو په خپل کلني راپور کې اعلان کړی چې د اقلیم د بدلون له امله په هېواد کې شاوخوا ۲۱ میلیونه وګړي د ځښاک پاکو اوبو ته لاسرسی نه لري او شاوخوا ۲،۵ میلیونه کسان د دوی له اصلي سیمو څخه بې ځایه شوي دي او هر کال د کرنې په برخه کې بزګرانو ته د 250 میلیون ډالرو په ارزښت زیانونه اړوي .

په دې مقاله کې د اقلیم د بدلون په برخه کې د افغانستان دریځ، په دې هېواد کې د اقلیم د بدلون پایلې او د اقلیم له بدلون سره د مبارزې لپاره د ژغورنې ستراتیژي له مهمو موضوعاتو څخه دي چې تر بحث لاندې نیول کیږي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د اقلیم په بدلون کې د افغانستان ځای

افغانستان د اقلیم د بدلون په اړه نړیوال تړونونه لکه په ۱۹۹۲ کال کېUNFCCC ، په ۲۰۱۳ کال کې د کیوټو پروتوکول او په ۲۰۱۷ کال کې د پاریس تړون د اقلیم د بدلون د ناوړه اغیزو د کمولو په موخه له نورو هېوادونو سره د همکارۍ په برخه کې لاسلیک کړي دي. که څه هم افغانستان کولای شي له دغو تړونونو په تېره بیا د کیوټو پروتوکول او د پاریس له تړون څخه ګټه واخلي او د دغو پروتوکولونو پر بنسټ دغه هېواد له پرمختللو هېوادونو څخه مالي، تخنیکي او د ظرفیت لوړونې مرستې ترلاسه کولای شي. خو د څو لسیزو پرله پسې جګړو، سیاسي بې ثباتۍ، ناامنۍ او د نړیوالې ټولنې له خوا د اسلامي امارت په رسمیت نه پیژندلو له امله افغانستان تراوسه نه دی توانیدلی چې له دغو پروتوکولونو څخه په سمه توګه ګټه پورته کړي. تردې چې د ملګرو ملتونو د اقلیمي بدلونونو په دریو کنفرانسونو کې چې په پرله پسې په ۲۰۲۱، ۲۰۲۲ او ۲۰۲۳ کلونو کې په دوبۍ کې جوړ شوي وو افغانستان ته د ګډون بلنه هم نه وه ورکړل شوې .

له بلې خوا، افغانستان یو شمیر قوانین، مقررات او پالیسۍ لري لکه د چاپیریال قانون، د ځنګلونو د چارو قانون او مقررات، د تېلو او ګازو قانون، د کانونو قانون، د اوبو قانون، د انرژۍ قانون، همدارنګه د هوا د ککړتیا د مخنیوي او کمولو مقررات او د چاپیریال ساتنې پالیسي تنظیم او پلي کړي دي. چې دا ټول د اقلیم د بدلون په برخه کې له نړیوالې ټولنې سره د همکارۍ لپاره د افغانستان ژمنتیا څرګندوي.

د آلمان د راپور په اساس د 2021 کال د اقلیم د خطر د شمېرو له مخې، افغانستان له موزمبیق، زیمبابوې، جاپان او مالاوي وروسته په نړۍ کې د اقلیم د بدلون څخه د اغېزمنیا له کبله شپږم ډیر زیان منونکی هیواد دی. دغه راز د خوړو نړیوال سازمان هم په یوه راپور کې ویلی چې افغانستان د اقلیمي بدلون له امله د نړۍ شپږم زیانمنونکی هېواد دی. پداسې حال کې چې افغانستان د اقلیم په بحران کې د هیڅ رول نه دی لوبولی، د شنو خونو د ګازونو د اخراج یو له کوچنیو عواملو څخه دی؛ خو له دې ستونزې څخه تر ټولو زیان منونکی هیواد ګڼل کیږي .

له بلې خوا د سره صلیب د نړیوال فدراسیون (IFRC) لخوا په ۲۰۲۰ کال کې د خپور شوي راپور له مخې افغانستان له ۲۰۰۰ کال څخه تر ۲۰۱۹ کال پورې د طبیعي پېښو له زیان لیدونکو هېوادونو څخه یو بلل شوی دی. په همدې حال کې په کابل کې د اروپایي ټولنې استازي اعلان کړې و چې افغانستان د اقلیم د بدلون په وړاندې تر ټولو زیان لیدونکی هېواد دی. او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سیاسي دفتر (یوناما) د مرستیالې روزا اوتنبایوا په راپور کې چې د اقلیم په اړه نړیواله غونډه وه او دوبۍ کې د ۲۰۲۳ کال کې ترسره شوه وویل چې شاوخوا ۲۰ میلیونه افغانان د خوړو له سخت کمښت سره مخ دي .

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

خو د اقلیم د بدلون له ګواښونو سره سره د نړیوالو له خوا د اسلامي امارت په رسمیت نه پېژندلو کې د تخنیکي ظرفیتونو کمښت او د همکاریو په برخه کې د نړیوالو نه پاملرنه د افغانستان اوسنی او راتلونکې د اندېښنې وړ بلل کیږي.

## په افغانستان کې د اقلیم د بدلون پایلې

لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه، د ترسره شویو څېړنو له مخې، د صنعتي هیوادونو لخوا د فوسیل سونګ موادو لکه ډبرو سکرو، تېلو او ګازو کارول د نړۍ د اقلیم په بدلون کې ترټولو لویه ونډه لري او د نړۍ د شنو خونو ګازو په اخراج کې 75٪ څخه ډیر او د ټول کاربن ډای اکسایډ ٪ 90 اخراج جوړوي. سره له دې چې افغانستان د شنو خونو د غازونو په اخراج کې ډېره ونډه نه لري، خو د سترو صنعتي هېوادونو له خوا د شنو خونو د ګازو د اخراج له امله افغانستان د اقلیمي بدلونونو په برخه کې زیانمن شوی دی او د دې هیواد وګړو ته یې لوی ځاني، مالي او زراعتي زیانونه اړولي دي.

د 2022 کال کې د کاربن ډای اکسایډ د اخراج برخه کې د هیوادونو جدول.

| NO | Country | CO2Emission (tons, 2022 | 1 Year Change | Population (2022) | Per capita | Share of world |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | China | 12,667,428,430 | -0.39% | 1,425,179,569 | 8.89 | 32.88% |
| 2 | Iran | 686,415,730 | 1.27% | 89,524,246 | 7.67 | 1.78% |
| 3 | Pakistan | 199,329,850 | -7.74% | 243,700,667 | 0.82 | 0.52% |
| 4 | Uzbekistan | 132,433,520 | 3.70% | 34,938,955 | 3.79 | 0.34% |
| 5 | Turkmenistan | 69,882,930 | 1.83% | 7,230,193 | 9.67 | 0.18% |
| 6 | Tajikistan | 10,551,280 | 1.31% | 10,182,222 | 1.04 | 0.03% |
| 7 | Afghanistan | 5,675,770 | 0.65% | 40,578,842 | 0.14 | 0.01% |

پورته جدول کې لیدل کیږي چې افغانستان د خپل نفوس په پرتله، د کاربن ډای اکسایډ (CO2) (د ځمکې په اتموسفیر کې یو له مهمو شنو خونو ګازونو څخه دی چې د اقلیم په بدلون کې مهم رول لوبوی) او نورو ګازونو په تولید او خوشې کولو کې خورا لږ رول لوبوی مګر دا چې د کاربن ډای اکسایډ ترټولو لوی اخراج کوونکو هیوادونو لکه چین، هند، ایران، روسیه، جاپان او داسې نورو سره نږدې موقعیت لري، د اقلیم د بدلون له نظره د نړۍ یو له خورا زیان لیدونکو هیوادونو څخه بلل شوی دی او د دې هیواد وګړو ته یې خطرناکې پایلې رسولي دي چې لاندې بحث کې ورته اشاره شوې ده.

**سېلابونه**: د پرله پسې طبيعي پېښو په توګه په افغانستان کې سېلابونه د دغه هېواد خلک له سترو ننګونو سره مخ کړي دي. سختو بې موسمي بارانونو او ویجاړونکو سېلابونو د کورونو د ورانېدو لامل شوي او د دغه هېواد په یوشمېر ولایتونو کې یې کرنیزو ځمکو، باغونو او حتی د خلکو د استوګنې ځایو ته په زیاته اندازه اوبه او ختې ننوتې او ځایي اوسېدونکو ته یې ډېر ځاني او مالي زیانونه اړولي دي. وروستي سیلابونه چې د وچکالۍ له امله رامینځته شوي او د خاورې د نفوذ کمښت چې په ځمکه کې د اوبو د کم جذب لامل کیږي، لوی زیانونه ترشا پرېښي دي. د ملګرو ملتونو د خوړو د نړیوالي اداري له خوا د ۲۰۲۴ کال په مې میاشت کې د خپرو شویو شمېرو له مخې د افغانستان په شمالي ولایتونو کې د سېلابونو له امله له ۳۰۰ ډېر کسان مړه شوي او تر ۱۰۰۰ ډېر کورونه ویجاړ شوي دي.  له بلې خوا د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق (یونیسف) په خپل شپږ میاشتني راپور کې ویلي چې د می په میاشت کې د افغانستان په شمال ختیځ کې سختو بارانونو او ویجاړونکو سیلابونو د بدخشان، بغلان او تخار ۲۱ ولسوالۍ اغیزمنې کړې چې له امله یې ۱۸۰ کسان وژل شوي او ۲۸۰ تنه ټپیان شوي دي.  خو د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر UCHAوایي چې په افغانستان کې وروستیو سیلابونو شاوخوا ۸۳ زره کسان اغیزمن کړي دي.  د اقلیم د بدلون ناوړه اغیزې، په ځانګړې توګه په افغانستان کې د کورونو او د خلکو د عاید د سرچینو ویجاړول، یو زیات شمیر ځايي اوسیدونکي بې ځایه کړي دي. د ماشومانو د ژغورنې سازمان (Save the Children) د راپور له مخې، د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې په افغانستان کې د اقلیم د بدلون له امله لږ تر لږه ۳۸ زره کسان، چې ډېري یې ماشومان دي، بې ځایه شوي دي. د دې پر بنسټ، د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د افغانستان د داخلي بې ځایه شویو شمېر په ۲۰۲۳ کال داخلي بې‌ځایه شویو شمېر څخه ډېر دی .

**وچکالي**: د اقلیم د بدلون بله ناوړه پایله وچکالي او د اورښت کموالی دی. د څېړنو له مخې په افغانستان کې د اورښت منځنۍ کچه ۲۵٦ ملي متره ده، خو په دغه هېواد کې د اورښت تر ټولو لوړه کچه ۳۱۲ ملي مترو ته رسېدلې ده. په داسې حال کې چې په دغه هېواد کې د اورښت کچه له ۱۰۰ ملي مترو څخه کمه ده .

له همدې امله په افغانستان کې د اورښت د منځنۍ کچې له مخې دغه هېواد د نړۍ له وچو سیمو څخه دی. د وچکالۍ پراخوالی چې د څو سوه کیلومترو څخه تر زرګونو مربع کیلومترو پورې اغیزه کوي، او اصلي عامل یې د باران او واورې کمښت دی د اوبو د سرچینو کمښت هم لامل کیږي. له همدې امله د څښاک، کرنې، مالداری، صنعت او شنو ساحو او نورو لپاره د اوبو د سرچینو د نشتوالي له امله خلک د ځمکې لاندې زیرمې په ډېره اندازه کاروي چې دا به د اوبو سرچینو ته د نه جبرانېدونکي زیان لامل شی. له بلې خوا، د وچکالۍ دوام د کرنېزو محصولاتو په کمیت او کیفیت منفي اغیزې لري او د معیشت لپاره جدي ستونزې رامینځته


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

کوي. ځکه چې د افغانستان د خلکو ۸۰ سلنه اقتصاد په کرنه او مالدارۍ متکي دی او همدا راز د بې وزلۍ د له منځه وړلو هڅې له خنډ سره مخ کوي او بشري مرستو ته د خلکو اړتیا زیاتوي .

د دې پر بنسټ په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق (یونیسف) اعلان کړی چې نږدې ۲۴ میلیونه وګړي چې ۱۲،۳ میلیونه یې ماشومان دي، بشري مرستو ته اړتیا لري.

له بلې خوا په یو شمېر ولایتونو کې خلک د څښاک د پاکو اوبو له سخت کمښت سره مخ دي او له همدې امله غیر صحی اوبه، مالګینې اوبه، ترخې اوبه، ناپاکې اوبه او داسې نورې کاروي. د اسلامي امارت د چاپېریال ساتنې د ملي ادارې د مسؤلینو د راپور له مخې د تېر هجري لمریز کال په وروستیو کې شاوخوا ۲۱ میلیونه وګړي د څښاک د اوبو له کمښت سره مخ وو او د حیواناتو لخوا د ناپاکو اوبو څښل د ناروغیو خپریدل او حتی د مرګ لامل کېږی. د IFRC راپور له مخې، په افغانستان کې وچکالۍ د 2018 کال د اپریل څخه د 2019 تر جولای پورې 10.6 میلیونه خلک اغیزم3ن کړي دي .

**زلزله:** د نړیوالو زلزلو څېړونکي په دې باور دي چې وچکالي او د نړۍ د تودوخې او د اقلیم بدلون د زلزلې لامل نه کیږي، بلکې دا عوامل کولی شي د زلزلې ځېلي ځایونو کې د زلزلې خطر رامنځته کړي. په وروستیو کلونو کې د اقلیمي بدلون او د هغې د اغېزو له امله د زلزلو پېښې زیاتې شوي دي، په تېره بیا په هغو ځایونو کې چې د قوي زلزلو وړاندوینه نه کېده. په تېرو پنځو کلونو کې د اقلیم د بدلون او وچکالۍ اغېزې لیدل شوي او دې مسلې ته د امریکا په کلیفورنیا ایالت او نورو هیوادونو کې جدي پاملرنه شوې ده. د OCHA د راپور له مخې، په هرات کې د تېر کال زلزلې څه د پاسه ۱۱۵۰۰ کسان اغېزمن کړل. په داسې حال کې چې تر زرو کلونو مخکې په دې سیمه کې هېڅ زلزله نه وه شوې. دغه راز د افغانستان په ټولو سیمو کې د نورو کوچنیو زلزلو تر څنګ تېر کال د بدخشان په جرم ولسوالۍ کې د ریښتر په کچه یوه بله ۶،۴ درجې زلزله وشوه چې د سیمې خلکو ته یې درنه مرګ ژوبله واړوله په هر حال، د زلزلې ساینس پوهان په دې نظر دي چې "په تیوریکي او د موجوده انګیرنو او فزیکي میتودونو په کارولو سره، دا ویل کیدای شي چې د زلزلې په رامینځته کولو کې د اقلیم د بدلون فشار، لویې دښتې چې د خوځښت فعال توان لري او د اوبو لوی حجم لري تقریبا له 30 کیوبیک کیلومتره پورته له لاسه ورکړي دي، مهم رول لوبوي.

**د تودوخې زیاتوالی:** د تودوخې زیاتوالی د بشري فعالیتونو په پایله کې، په ځانګړې توګه صنعتي فعالیتونه چې د شنو خونو ګازونو اخراج زیاتوي، د اقلیم بدلون او د نړیوالې تودوخې لامل کیږي. له 1850ز. کال راهیسې د ځمکې تودوخه په اوسط ډول په هره لسیزه کې د 0.11 درجې فارنهایټ (0.06 درجې سانتي ګراد) یا په ټوله کې شاوخوا 2 درجې فارنهایټ لوړه شوې ده. مګر د تودوخې کچه له 1982 ز. کال راهیسې درې چنده زیاته شوې، چې په هره لسیزه کې د 0.36 درجې فارنهایټ (0.20 درجې سانتي ګراد) لخوا ګړندی کیږي. 2023 کال په ډېر تفاوت سره ترټولو ګرم کال و. لکه څنګه چې د 20 پیړۍ اوسط 57.0 درجې فارنهایټ



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

(13.9 درجې سیلسیس) څخه 2.12 درجې فارنهایټ (1.18 درجې سیلسیس) لوړ دی. دا د پخوانۍ کلنۍ اوسط (1850-1900) څخه 2.43 درجې فارنهایټ (1.35 درجې سیلسیس) لوړ و. وروستي لس کلونه (2014-2023) په تاریخ کې تر ټولو ګرم کلونه وو او داسې وړاندوینه هم کیږي چې کیدای شي 2024 کال تر ټولو ګرم کال وي .

افغانستان هم په همدې لسېزو کې د تودوخې د پام وړ زیاتوالی تجربه کړی دی، د خوړو نړیوال پروګرام (WFP)، د ملګرو ملتونو د چاپیریال پروګرام (UNEP) او د چاپیریال ساتنې ملي اداري (NEPA) د ګډ راپور له مخې په تېرو دېرشو کلونو کې افغانستان هم په تېرو څو لسېزو کې د تودوخې د پام وړ زیاتوالی تجربه کړی دی. په ځانګړې توګه په پسرلي او منی کې په ټول هیواد کې د تودوخې درجه لوړه شوې ده،" د NEPA بل راپور موندلې چې د 1950 او 2010 کلونو ترمنځ، د افغانستان تودوخه 1.8 درجې سانتي ګراد لوړه شوې، چې د نړیوال نرخ دوه برابره ده .

**د خوړو خوندیتوب:** د ملګرو ملتونو د تعریف له مخې، د خوړو خوندیتوب د هر وخت لپاره کافي خواړو ته د ټولو خلکو لاسرسي ته ویل کیږي ترڅو سالم بدن ولري. د خوراکي توکو شتون، هغې ته لاسرسی او د هغې په ترلاسه کولو کې دوام د خوړو د خوندیتوب له مهمو عواملو څخه ګڼل کیږي. د پورتنیو قضیو له مخې، د اقلیم بدلون د مالداری، کرنې، کنبت او بنوالۍ په بهیر کې د منفي او بدو پایلو لامل کیږي او همدارنګه د وچکالۍ او پاکو اوبو ته د نه لاسرسي او نشتوالي لامل کیږي. دا ویل کیدی شي چې د اقلیم بدلون د خوړو په خوندیتوب مستقیم او غیر مستقیم اغیز لري او همدارنګه د خوړو د ځنځیر په مختلفو مرحلو کې خطرونه رامینځته کوي.

په دې اساس، د هېواد زیانمنتیا د نورو عواملو تر څنګ، له دې اړخه هم د فقر او لوږې له جدي ستونزې سره مخ دی. له همدې امله، د (OCHA) په وینا، د افغانستان 48٪ نفوس د فقر کرښې لاندې ژوند کوي. دغه بنسټ ویلي چې دا مهال په افغانستان کې ۱۲.۴ میلیونه وګړي د خوراکي توکو د نه خوندیتوب سره مخ دي. د دې پر بنسټ په افغانستان کې له هرو دریو کسانو څخه یو تن د خوراکي توکو له نه خوندیتوب سره مخ دی. له همدې امله د اقلیم بدلون د یوې طبیعي ناورین او نړیوالې ستونزې په توګه د افغانستان د خلکو د بې وزلۍ یو له اصلی لاملونو څخه دی چې له خلکو څخه د هغوی کار او شتمنۍ لکه باغونه، ځمکې او جایدادونه او حتی کورونه او ژوند اخلي.

## د اقلیم بدلون سره د مبارزې لپاره د ژغورنې ستراتیژي

په کورني او نړیواله کچه د هراړخیزو او همغږیو ستراتیژیو او کړنو په کارولو سره، موږ کولی شو د اقلیم د بدلون ځینې منفي اغیزې کمې کړو او د چاپیریال په ښه کولو کې مرسته وکړو:

## داخلي اقدامات

-د اوبو د سرچينو مديريت: د نويو ټېکنالوژيو په کارولو سره د اوبو سرچينو مديريت ته وده ورکول او د اوبو ايکوسيستم ساتل او د اوبو سرچينو ککړتيا کمول؛ دا ستراتيژي کولای شي چې د اقليم د بدلون سره د مبارزې په برخه کې اغيزمنه کيدی شي.

-د نوي کيدو وړ انرژۍ سرچينو ملاتړ: د لمريزې انرژۍ، باد انرژۍ او د انرژۍ د توليد نورو سرچينو باندې پانگونه او مالي اسانتياوې چمتو کول چې د شنو خونو گازونو د اخراج لامل نه کيږي.

-د ايکوسيستمونو ساتنه: د خوندي سيمو رامينځته کول او د ايکوسيستمونو ، ځنگلونو او طبيعي چاپيريالونو د ژوندي کولو په برخه کې د بريالۍ پروژو ملاتړ او د اقليم د بدلون په اړه د عامه پوهاوي هڅول او خلک او ټولنې هڅول چې د ايکوسيستمونو ساتنې په اړه مسؤل او دوامداره چلند غوره کړي.

-د ککړتيا مخنيوی: د مناسبو بديلونو سره د هر ډول ککړتيا مخنيوي لپاره بايد هڅې وشي؛ د بېلگې په توگه: په لويو ښارونو لکه کابل، مزار او کندز کې د ټرانسپورټ په برخه کې د فوسيل تېلو کموالی او مخنيوی او د عامه ترانسپورت لکه سايکل چلولو لپاره د خلکو هڅول او هم د بريښنايي موټرو پراختيا يا د ځينو هيوادونو لکه چين، هند، اندونيزيا او نورو په څير د هوا د ککړتيا د مخنيوی لپاره ماليه لگول ترڅو د هوا دککړتيا مخه ونيول شي.

-کلتور جوړونه: د خلکو هڅول چې د دوامداره ژوند طرز غوره کړي؛ د اقليم د بدلون په اړه د عامه پوهاوي د زياتولو او د اقليم د بدلون سره د مقابلې لپاره د دوی مسؤلانه چلند لپاره روزنيز کورسونه او د رسنيو کمپاينونه ترسره کول.

## نړيوال اقدامات

-د شنو خونو گازونو اخراج کمول: د شنو خونو گازونو اخراج کمولو لپاره د پاليسيو پلي کول ، لکه د نوي کيدونکي انرژي (لمر، باد او اوبو) په برخه کې پانگونه او مالي اسانتياوې چمتو کول او د انرژي مصرف اصلاح کول په صنعتونو او ودانيو کې د دې ډول انرژي مؤثريت لوړول .

-څيړنه او پراختيا: د نوي ټيکنالوژيو رامينځته کولو لپاره په ساينسي څيړنو کې پانگونه چې د شنو خونو گازونو کمولو او د نوي کيدونکي انرژي کارولو کې مرسته کوي.

-د نړيوالو کنفرانسونو زياتوالی: د نړيوالو کنفرانسونو ترسره کول لکه (COP) او د اقليم د بدلون په وړاندې زيان منونکي ټولو هيوادونو ته بلنه ورکول ترڅو د اقليم د بدلون سره د مبارزې لپاره د نړيوالو اقداماتو په اړه د نظرونو تبادله وکړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

-نړیواله همکاري: په نړیوالو ترونونو کې ګډون او د اقلیم له ننګونو سره د مقابلې لپاره د هیوادونو او نړیوالو سازمانونو سره همکاري یو بل فرصت دی چې هیوادونه کولی شي په روښانه توګه خپلې دندې او مسؤلیتونه وپیژني او پلي کړي.

## پایله

د پورتنیو معلوماتو له مخې، افغانستان د اقلیم د بدلون له امله له جدي ننګونو سره مخ دی، چې د میلیونونو خلکو ژوند یې اغېزمن کړی او د اقتصادي او بشري ناورین لامل شوی دی. د اقلیم له بدلون سره د مقابلې لپاره د نړیوالو ترونونو له لاسلیک سره سره، سیاسي بې ثباتي او د نړیوالې ټولنې له خوا د اسلامي امارت په رسمیت نه پېژندلو دغه هېواد له مالي او تخنیکي مرستو څخه د ګټې اخیستنې مخه نیولې ده.

وړاندې شوي راپورونه ښيي چې افغانستان د اقلیم د بدلون په وړاندې تر ټولو زیات زیان لیدونکی هیواد دی، په داسې حال کې چې د شنو خونو ګازونو په اخراج کې یې ونډه ډېره کمه ده. دا وضعیت د نړۍ په چاپېریال باندې د صنعتي هیوادونو د منفي اغېزو او تخنیکي ظرفیتونو او نړیوالې همکارۍ ته د نه پاملرنې له امله رامینځته شوی. له همدې امله د ښکاک پاکو اوبو ته نه لاس رسی، د داخلي بې ځایه شویو کسانو زیاتوالی او د کرنې په سکتور کې د پام وړ زیانونه په افغانستان کې د اقلیم د بدلون د اغېزو د کمولو لپاره د زیربناوو د پیاوړتیا او نړیوالې همکارۍ بیړنۍ اړتیا په ګوته کوي. دغه هېواد له دغو ننګونو سره د مقابلې او د خلکو د ژوندانه د ښه والي لپاره د نړیوالې ټولنې جدي پاملرنې او ملاتړ ته اړتیا لري.

## وړاندیزونه

**د افغانستان اسلامي امارت ته وړاندیزونه:**

1. د کورني ظرفیتونو پیاوړتیا: د اسلامي امارت لپاره اړینه ده چې د اوبو د سرچینو د مدیریت او دوامدارې کرنې په برخه کې د کروندګرو او سیمه ییزو ټولنو لپاره تعلیمي او تخنیکي پروګرامونه په لاره واچوي. دا کولی شي د اقلیم بدلون څخه د زیان په کمولو کې مرسته وکړي.

2. د چاپېریال د قوانینو پیاوړتیا: د چاپېریال د قوانینو او مقرراتو په سمه توګه تطبیق، په ځانګړې توګه د ځنګلونو او د اوبو د سرچینو د ساتنې په برخه کې چې کولی شي د اقلیم د بدلون د منفي اغېزو په کمولو کې مرسته وکړي.

3. د چاپېریالي زیربناوو پراختیا: د اوبو په زیربناوو کې پانګونه، په ځنګلي سیمو کې د نیالګیو کښت، په ښارونو کې د شنو پارکونو زیاتوالی او د شنو ساحو خړوبول، د کانالیسیون عصري سیستمونه او د باران د اوبو ذخیره کول، د اقلیم د ناوړه اغیزو په کمولو کې مرسته کولی شي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

4 .د سیمه ییزو او نړیوالو بنسټونو سره ملګرتیا: د غیر دولتي سازمانونو او نړیوالو بنسټونو سره د پوهې او سرچینو د تبادلې لپاره د اغیزمنې همکارۍ رامینځته کول کولی شي د چاپیریال په ښه کولو کې مرسته وکړي او د اقلیم د بدلون له امله رامینځته شوي زیانونه کم کړي.

## نړیوالې ټولنې ته وړاندیزونه:

1 .مالي او تخنیکي ملاتړ: نړیواله ټولنه باید د نړیوال تړون پر بنسټ له افغانستان سره مالي او تخنیکي مرستې وکړي، ترڅو دغه هېواد د اقلیم له بدلون سره د مبارزې په برخه کې خپل ظرفیتونه پیاوړي کړي.

2 .له اسلامي امارت سره تعامل: د بین المللي همکارۍ د اسانتیا په موخه باید نړیواله ټولنه د افغانستان له اسلامي امارت سره اړیکې پراخې کړي او د اقلیم د بدلون په اړه جوړېدونکي خبرو کې دې ورته ځای ورکړي.

3 .د چاپیریالي پروژو ملاتړ: په افغانستان کې د چاپیریال ساتنې او د اقلیم د بدلون په اړه د پروژو ملاتړ کولی شي د دې بدلونونو د منفي اغیزو په کمولو کې مهم رول ولوبوي.

4 .د ځنګلونو ساتنه او پراختیا: د ځنګلونو د ساتنې لپاره باید د ونو د پرې کولو او د اور اخیستلو د مخنیوي لپاره هڅې وشي او د ودې لپاره یې په خالي ځایونو او نورو دولتي سیمو کې شنې ونې وکرل شي.

5 .د اوبو د منابعو مدیریت: د اوبو د منابعو د مدیریت لپاره باید له څو لارو څخه کار واخیستل شي لکه: د ذخیروی څاګانو کیندل، د ځمکې لاندې اوبو د ساتلو لپاره د پوهاوي لوړول، د شنو سیمو ساتل او داسې نور څخه کار واخېستل شي.

6 .د نړیوالو کنفرانسونو ترسره کول: د اقلیم د بدلون په اړه د نړیوالو کنفرانسونو ترسره کول د افغانستان وضعیت ته په پام سره، کولی شي د دې هیواد ننګونو او اړتیاو ته ډېره پاملرنه راجلب کړي.

## سرچیني

[1] . وینسنت توماس،(2016)، تغییر اقلیم در افغانستان: چشم اندازها و فرصتها، ص1، لینک:
https://www.boell.de/sites/default/files/climate_change_dari.pdf

[1] . پروگرام محیط زیست ملل متحد، 2009، ص 16.

[1]. **Save the Children: AFGHANISTAN: EXTREME WEATHER FORCES MORE PEOPLE FROM THEIR HOMES IN FIRST SIX MONTHS OF 2024 THAN ALL 2023, 6 August,2024,link:**
https://www.savethechildren.net/news/afghanistan-extreme-weather-forces-more-people-their-homes-first-six-months-2024-all-2023

[1] . طلوع نیوز: تلاش‌ها برای از سرگیری پروژه‌های محیط زیستی ... 24 اسد 1403هـ.ش، لینک:
https://tolonews.com/fa/afghanistan-190230#:~:text=%D8%A8%D9%87%20%DA%AF%D9%81%D8%AA%D9%87%20%D9%85%D8%B3%D9%88%D9%88%D9%84%D8%A7%D9%86%20%D8%A7%DB%8C%D9%86%20%D8%A7%D8%AF%D8%A7%D8%B1%D9%87,%



center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

D8%B2%D8%B1%D8%A7%D8%B9%D8%AA%20%D8%A8%D9%87%20%DA%A9%D8%B4%D8%A7%D9%88%D8%B1%D8%B2%D8%A7%D9%86%20%D8%A2%D8%B3%DB%8C%D8%A8%20%D9%85%DB%8C%E2%80%8C%D8%B1%D8%B3%D8%AF.

[1] . اداره ملی حفاظت محیط زیست، ریاست تغییر اقلیم، لینک:

https://www.nepa.gov.af/service3dr

[1] . افغانستان؛ متاثر از تغییرات اقلیم و محروم از نشست اقلیمی، 20 میزان 1402هـ.ش، لینک:

https://www.dw.com/fa-af/افغانستان-شدیداً-آسیبپذیر-از-تغییر-اقلیم-و-محروم-از-نشست-اقلیمی/a-67693391

[1]. Najibullah Zaki, An Overview of Climate Change in Afghanistan: Causes, Consequences, Challenges and Policies, January, Page 3.

[1] . اتحادیه اروپا: افغانستان آسیب پذیر ترین کشور در برابر تغییرات اقلیمی است، 4 May 2024، لینک:

https://www.aa.com.tr/fa3207875/افغانستان/اتحادیه-اروپا-افغانستان-آسیب-پذیرترین-کشور-در-برابر-تغییرات-اقلیمی-است/

[1] . UNAMA: TIME TO MOVE FROM AWARENESS TO ACTION AS COP 28 OPENS IN DUBAI, 1 Dec 2023, link:

https://unama.unmissions.org/time-move-awareness-action-cop28-opens-dubai

[1] .Climate Action: Causes and Effects of Climate Change, link:
https://www.un.org/en/climatechange/science/causes-effects-climate-change

[1]. Worldomater: CO2 Emissions by Country, link:

[1] . ایسنا: علل وقوع سیل در افغانستان؛ چالش‌ها برای مقابله با بلایای طبیعی، 16، می 2024م، لینک:

https://www.aa.com.tr/fa/%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86/%D8%B9%D9%84%D9%84-%D9%88%D9%82%D9%88%D8%B9-%D8%B3%DB%8C%D9%84-%D8%AF%D8%B1%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-%DA%86%D8%A7%D9%84%D8%B4-%D9%87%D8%A7-%D8%A8%D8%B1%D8%A7%DB%8C-%D9%85%D9%82%D8%A7%D8%A8%D9%84%D9%87-%D8%A8%D8%A7-%D8%A8%D9%84%D8%A7%DB%8C%D8%A7%DB%8C-%D8%B7%D8%A8%DB%8C%D8%B9%DB%8C/3219984

[1] . Unicef: Humanitarian Situation Report, 1-January-30 June 2024,link:

https://www.unicef.org/afghanistan/media/10386/file/Afghanistan%20Country%20Office%20Mid-Year%20Sitrep%20Number%206_%20Jan%20-%20June%202024_Cleared.pdf.pdf

[1] .Ariana News :اوچا: 48 درصد از جمعیت افغانستان...15 اسد 1403 هـ.ش، لینک :

https://www.ariananews.af/fa/%D8%A7%D9%88%DA%86%D8%A7%DB%B4%DB%B8D8%AF%D8%B1%D8%B5%D8%AF%D8%A7%D8%B2%D8%AC%D9%85%D8%B9%DB%8C%D8%AA%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-%D8%B2%DB%8C%D8%B1%D8%AE%D8%B7/

[1] . اقلیم بارشی سرزمین افغانستان، فصلنامه تحقیقات جغرافیایی، سال 29، شماره سوم، پائیز 1393، شماره مسلسل 114، ص 198، لینک:

https://georesearch.ir/article-1-355-fa.pdf

[1] . اداره ملی آمادگی و رسیدگی به حوادث: خشکسالی، لینک:

https://andma.gov.af/dr/%D8%AE%D8%B4%DA%A9%D8%B3%D8%A7%D9%84%DB%8C

[1] . طلوع نیوز: اثرهای بد تغییر اقلیم در کشور؛ 17 دلو 1402هـ.ش، لینک:

https://tolonews.com/fa/afghanistan-187298#:~:text=روبه%20آشامیدنی%E2%80%8C-هستند.%20رو زیست%20در%20این%20نشست،به%20آ%E2%80%8Cعبدالسلام،%20حقانی%20معاون%20اداره%20ملی%20حفاظت%20محیط دست%20آشامیدنی%20ب%E2%80%8Cندارند%20رسی.»

[1] .Alison Freebairn et al (2020), page 9. IFRC World Disasters Report 2020.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

[1]. Climate Change: Global Temperature, 18, January 2024, link: https://www.climate.gov/news-features/understanding-climate/climate-change-global-temperature#:~:text=Earth's%20temperature%20has%20risen%20by,0.20%C2%B0%20C)%20per%20decade.

[1] . Najibullah Zaki, An Overview of Climate Change in Afghanistan: Causes,Consequences, Challenges and Policies,January, Page 11.

[1]. Ariana News: اوچا: 48 درصد از جمعیت افغانستان...15 اسد 1403 هـ.ش، لینک:

https://www.ariananews.af/fa/%D8%A7%D9%88%DA%86%D8%A7%DB%B4%DB%B8D8%AF%D8%B1%D8%B5%D8%AF%D8%A7%D8%B2%D8%AC%D9%85%D8%B9%DB%8C%D8%AA%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-%D8%B2%DB%8C%D8%B1%D8%AE%D8%B7/

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سايت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +93780618000 +93780618000